د افغـــــــــــانستان اسلامي امارت
د کــــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مــــــــــــالی او اداري معينيت
د اطــــــــــلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطــــــــــلاعاتو آمــــــــــريت

عــودت راستنېدنه هفته نامه اونيزه

(٦٦)گڼه زمرۍ ۱۴۰۴: شماره (٦٦) اسد ۱۴۰۴ :صفحه اول:لومړی مخ




## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزير محترم مولوي عبدالکبير په خپل کاري دفتر کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر ښاغلي فيليپو ګرانډي سره وکتل.

په دغه ناسته کې چې له ښاغلي ګرانډي سره په د افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ مسوول عرفات جمال هم ملتيا کوله، له ايران او پاکستان څخه په جبري ډول د افغان راستنېدونکو د حالت او د مرستو رسولو په هکله يې خبرې وکړې.

د ښاغلي ګرانډي په وينا چې کابل ته يې د سفر موخه له نږدې، د افغان راستنېدونکو د حالت ارزول او ورسره د مرستې کولو لپاره د مالي سرچينو جلب دی.

د ناستې په پيل کې فيليپو ګرانډي په افغانستان کې د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د کميشنرۍ له کارکوونکو سره د اسلامي امارت له همکارۍ مننه وکړه او زياته يې کړه، چې ځينې وخت سياسي مسايلو د افغان راستنېدونکو لپاره بشري مرستې اغېزمنې کړې خو بيا هم هڅه کوي چې د اړمنو لپاره کافي مالي منابع راجلب او مرستې ورته ورسوي.

هغه وويل، چې په کابل کې به د نړيوال بانک او د اسيا پراختيايي بانک له استازو سره د افغان راستنېدونکو د لاس نيوي په موخه ناسته وکړي او همدارنګه به له ايران او پاکستان څخه په جبري ډول د رااېستل شوو حالت له نړيوالو سره هم شريک کړي.

د ناستې پر دوام ښاغلي ګرانډي زياته کړه، چې هرات ولايت ته د سفر هوډ لري او له هغه ځايه به ايران ته هم لاړ شي او د افغان راستنېدونکو او هلته د مېشتو افغانانو په تړاو پيغام به له تهران سره شريک کړي.

نوموړي د خپلو خبرو په پای کې يادونه وکړه، چې په جبري ډول د افغانان د ايستلو په هکله د اسلامي امارت له دريځ سره همغږی دی او د افغان کډوالو د ستونزو حل په موخه يې د درې اړخيزو ناستو پر ژر پيل ټينګار وکړه.



محترم مولوي عبدالکبير ښاغلي فيليپو ګرانډي ته ښه راغلاست وويل او کابل ته يې د هغه سفر مهم ياد کړ.

محترم وزير وويل، په داسې حال کې چې افغانستان اقليمي بدلون او جګړو ځپلی، ايران او پاکستان هر ورځ زرګونه افغانان په جبري ډول راباسي چې دې چارې پر اقتصاد او ټولنيزو خدمتونو منفي اغېزه کړې ده.

محترم مولوي عبدالکبير په ډېله ييز ډول د افغان کډوالو ايستل د اندېښنې وړ وبلل او زياته يې کړه، چې د افغان راستنېدونکو حقونه او پانګه بايد په کوربه هېوادونو کې ضايع نه شي.

محترم وزير څرګنده کړه، چې اسلامي امارت د راستنېدونکو لپاره لنډمهاله سرپناوو او خدمتونو په موخه اړين ګامونه اخيستي خو اړتيا ده چې په ټولنه کې د راستنېدونکو د ادغام لپاره ورته دايمي سرپنا برابره شي او په دې برخه کې يې د نړيوالو د مرستو غوښتنه وکړه.

په پای کې محترم مولوي عبدالکبير له ايران او پاکستان سره د درې اړخيزو ناستو لپاره د چمتووالي يادونه وکړه او زياته يې کړه، چې تر را روان ژمي مخکې بايد راستنو شوو ته سرپناوې چمتو کړل شي.

## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزير محترم مولوي عبدالکبير د پکتيکا د زيړوک ولسوالۍ له يو شمېر علمای کرامو او قومي مخورو سره وکتل.

په دې ناسته کې چې د زيړوک ولسوالۍ څو تنو مجاهدينو او مسوولينو هم حضور درلود، په ياده سيمه کې د ولسونو اقتصادي حالت ته په اشارې سره يادونه وشوه، چې خلک د حکومت له لوري د يو شمېر ټولګټو چارو د پيل او د ځينو شته ستونزو د حل غوښتنه لري.

حاضرو قومي مخورو او علمای کرامو د وړاندېزونو شريکولو پر مهال وويل، چې اسلامي امارت دې د زيړوک ولسوالۍ د سړکونو رغولو او همدرانګه په زيړوک کې د پلان شوو کوچنيو بندونو چارې پيل کړي.

دغه راز راغلو مشرانو او قومي مخورو د مهاجرينو چارو محترم وزير ته وړانديز وکړ، چې اسلامي امارت دې د بېوزلو لاس نيوي ته ځانګړی پام وکړي.

محترم مولوي عبدالکبير له زيړوک څخه راغلو مشرانو او علماوو ته د ښه راغلاست پر مهال د اسلامي نظام په برپا کې د ولسونو هڅې د وياړ وړ وبللې او زياته يې کړه، چې اسلامي امارت ولس ته د خدمت مسووليت لري او له تبعض پرته د هر وګړي غږ اورېدل کېږي.

محترم وزير وويل، چې له اړوندو ادارو سره به په همغږۍ د زيړوک د ولس وړاندېزونو ته د رسيدنې لپاره هڅه وشي او څرګنده يې کړه، چې اسلامي نظام د افغان ولس هرې غوښتنې ته متوجه دی.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبير راغلو مشرانو ته ډاډ ورکړ چې د يادو شوو ستونزو حل ته به لومړيتوب ورکړي.



## معين مالی واداری وزارت امور مهاجرين، با اتشه مهاجرين افغان مقيم شهر پشاور ديدار نمود

محترم شيخ کليم الرحمن فانی، معين مالی واداری وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان، با قاری نيازمحمد عارف اتشه امور مهاجرين افغان مقيم شهر پشاور کشور پاکستان، در دفتر کارش ديدار نمود.

در اين ديدار ميان طرفين وضعيت مهاجرين افغان و حل مشکلات آنان در پاکستان مورد بحث قرار گرفت.

آقای عارف مشکلات در عرصه کاری و افزايش حجم تشکيل آن اتشه را نيز با محترم فانی در ميان گذاشت که از سوی معين مالی و اداری اين وزارت در حل آن درآينده اطمينان داده شد و بر تداوم همکاری های بيشتر و تسهيل خدمات به مهاجرين افغان در آنکشور تاکيد بيشتر صورت گرفت.



## د مهاجرينو چارو وزارت د رئيسانو او کارکوونکو د کړنو د ارزونې لړۍ پيل شوه



د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء د حکم له مخې، د مهاجرينوا او راستنېدونکوچارو وزارت د رئيسانو، امرينو او نورو کارکوونکو د کړنو د ارزونې لړۍ پيل شوه. دغه ارزيابي، چې د چارو اداري، د اداري اصلاحاتو د هيآت له لورې ترسره کيږي؛ به د هر کارکوونکي د دندو د ترسره کولو څرنګوالي، د مسووليت احساس، او د کاري موثريت په اساس تر سره کېږي.

د پيل په ناسته کې د وزارت مالي او اداري مرستيال شيخ کليم الرحمان فاني اوويل، چې د ارزونې هدف د اداري د چارو ښه والی او د کارکوونکو وړتياوو ته وده ورکول دي، نوموړي زياته کړه، چې ارزونه به په رڼه ډول او د ټاکل شويو معيارونو پر بنسټ ترسره شي . ټاکل شوې ده، چې دا لړۍ به په راتلونکو څو ورځو کې د ټولو اړوندو څانګو په ګډون بشپړه شي.

## د کډوالو چارو وزارت مالي او اداري معين د خوست ولايت د يو شمېر قومي مخورو سره وليدل



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري معين شيخ کليم الرحمن فاني د خوست ولايت د يوشمېر قومي مخورو سره په خپل کاري دفتر کې وليدل .

په دې ليدنه کې د ياو ولايت قومي مخورو په مختلفو برخو کې خپلې ستونزې د مالي او اداري معين سره شريکې کړې.

شيخ کليم الرحمن فاني د ستونزو د حل ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول او د برنامو پلي کول د اسلامي امارت له موخو او په ځانګړي ډول زموږ مسووليت دی. نوموړي په دې برخه کې د مشرانو او سپين ږيرو رول مهم وباله.

## پیرامون مشکلات برگشت کننده گان، نشستی با معاون و سرپرست سازمان بین المللی مهاجرت، صورت گرفت

محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با خانم ایزورا موتیا مسکن تیا، معاون و سرپرست سازمان بین المللی مهاجرت در افغانستان، در دفتر کارش ملاقات کرد. در این دیدار که شماری از روسای مرکزی وزارت نیز حضور داشتند پیرامون مشکلات برگشت کننده گان از کشور ایران بحث صورت گرفت.

محترم معین مسلکی از همکاری سازمان بین المللی مهاجرت قدرانی نموده گفت: شماری زیادی از مهاجرین از کشور ایران روزانه اخراج میگردند که آنان در عرصه های مختلف از جمله غذا، سرپناه و ادغام مجدد در محلات اصلی شان ضرورت داشته و جا دارد که در این راستا این سازمان همکاری بیشتر نماید.

خانم تیا با قدردانی از رهبری وزارت در همکاری نزدیک با آن سازمان افزود: از آغاز سال با مشکل منابع مالی روبرو بودیم ولی با آن هم در تشریک مساعی با همکاران بین المللی و دونران به کمک خویش برای برگشت کننده گان در سرحدات ادامه میدهیم و در صدد افزایش آن هستیم.

وی بیان داشت: کوشش میکنیم در کار موثریت بوده تا تضاعف فعالیت نباشد و تلاش ما با شرکای کاری این است تا فعالیت ما با آنکه آمار و ارقام برگشت کننده گان از کشور ایران زیاد است، بیشتر گردد و ارقام را با دونران شریک میسازیم تا آنان علاقمند مساعدت بیشتر به آنها شوند.

خانم تیا در ادامه افزود: شماری از دونران علاقمند به این هستند تا برای برگشت کننده گان بعد از انتقال آنان در محلات اصلی شان همکاری و کمک بیشتر کنند.

معاون و سرپرست آن سازمان گفت: این سازمان در نظر دارد تا فرصت های کاری و تجارت های کوچک را برای آنانیکه برگشت داده شده اند و دارای شغل و حرفه میباشند راه اندازی نماید و بنابر درخواست جامعه در ایجاد مراکز بهداشتی، اعمار پل و پلچک نیز همکاری خواهیم داشت.

در اخیر، محترم راشد خواهان افزایش کمک های آن سازمان در انتقال، ایجاد سرپناه، فرصت های کاری و ادغام مجدد برگشت کننده گان شده که خانم تیا از همکاری اش با تشریک مساعی سایر همکاران آن سازمان در آینده اطمینان داد.



## هېواد ته د راستنو شویو د زده کړو د دوام په موخه د کډوالو چارو وزارت او پوهنې وزارت د استازو ترمنځ ناسته وشوه

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د حقوقي ملاتړ رييس الحاج غلام نبي الله دادخیل ستانکزي په مشرۍ د راستنېدونکو د زده‌کړو د دوام په برخه کې د ستونزو د حل په موخه د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو رييس مفتي محمد یوسف ثاقب سره ناسته تر سره شوه.

محترم ستانکزي وویل: زیاتره راستنېدونکي د تحصیلي اسنادو او مدارکو له نشتوالي سره مخ دي او د دوی د جذبولو او د زده کړو د دوام لپاره باید اسانتیاوې رامنځته شي.

همدارنګه هغه زیاته کړه، چې د هېواد په ولایتونو کې د پوهنې وزارت دویمو واحدونو ته لارښوونه وشي، تر څو د راستنېدونکو ستونزې مخکې له مخکې د چمتو شویو فورمو په رڼا کې حل کړي.

اساسي او ثانوي زده کړو رييس مفتي محمد یوسف ثاقب وویل: هغه راستنېدونکي، چې غواړي خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، کولای شي د اړوند ولایت مقام ته مراجعه وکړي او د زده کړو د دوام په اړه د حکم په تر لاسه کولو سره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته ورشي؛ ترڅو د دوی ستونزې حل شي. نوموړي د راستنېدونکو د چارو په اجرا کې د اسانتیا او روښتیا د رامنځته کولو په موخه د خپل وزارت په اداره کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

په پای کې پرېکړه وشوه، چې د یادي ستونزې د لانبه مدیریت په موخه او د دواړو وزارتونو د لا زیاتې همغږۍ او روښتیا لپاره یوه کمیټه جوړه شي.



## به ارزش بیش از یک میلیون دالر امریکایی؛ دو تفاهم نامه همکاری، در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

تفاهم نامه همکاری به ارزش یک ملیون ۱۹ هزار و ۹۵۳ دالر امریکایی میان موسسات ، هیات ناروی برای مهاجرین ، موسسه بین المللی حمایت از اطفال و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های عقد شده موسسات مذکور مبلغ متذکره را در بخش پرداخت پول نقد جهت ساخت و ترمیم سرپناه در ولایت بادغیس به مصرف خواهد رسانید که ۴۳٦ خانواده برگشت کننده، بیجاشده و جامعه میزبان ازآن مستفید خواهند شد ، همچنان مبلغ (۵۰) هزار دالر امریکایی در بخش تاسیس مراکز خدمات صحی ،ساخت دستشوی وحمایت اجتماعی از اطفال در ولایت هرات به مصرف خواهد رسانید که ۱۱۱۰۰۰ تن برگشت کننده از آن مستفید میگردند.



## روانه اونۍ هیواد کې له ۵۰۰ زیاتو کورنیو سره مرسته وشوه

په روانه اوونۍ کې په کابل، پکتیا، تخار، سمنگان او ننگرهار ولایتونو کې ۵۷٤ بیرته راستنو شویو، بېځایه شویو او ځایي اوسیدونکو کورنیو ته نغدي او خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې.

یادې کورنۍ تر دې وړاندې د یادو ولایتونو د مهاجرینو ریاستونو په همکارۍ او همغږۍ سره پېژندل شوې وې.

دا مرسته د همکارو بنسټونو په همکارۍ سره په لاندې ډول ووېشل شوه:

په کابل ولایت کې ۲۸۷ کورنیو ته ۲٬٦۷۷٬٦۳۵ افغانۍ، په سمنگان ولایت کې ٦۸ کورنیو ته ۲ قلمه خوراکي توکي، په پکتیا ولایت کې ۵۵ کورنیو ته ۱٬۷۳۳٬۵۰۰ افغانۍ، په تخار ولایت کې ۸۴ کورنیو ته ۳٬۱۲٦٬۷۰۰ افغانۍ، په ننگرهار ولایت کې ۸۰ کورنیو ته ۱٬۳۰۵٬٦۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.

## در ماه که گذشت؛ صد ها تن مهاجر محبوس؛ پس از رهایی از زندان های کشور پاکستان، به کشور برگشت نمودند

در ماه که گذشت( سرطان) ٦۸۸ تن از افغان های مهاجر محبوس در کشور پاکستان از حبس آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت انتقالات مهاجرین سپین بولدک ولایت قندهار افراد یاد شده با وجود داشتن اسناد در بخش های مختلف کشور پاکستان بازداشت شده بودند و هرکدام مدت۱ الی ۷ روز را دربند بودند.

افراد مذکور بعد از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال داده شده اند.

## په پروان ولایت کې یو عراده امبولانس د روغتیایی پرسونل سره یو ځای، بېرته راستنېدونکو لپاره روغتیایي خدمات وړاندې کوي

د پروان ولایت د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست د غوښتنې او د عامې روغتیا ریاست د همغږۍ پر بنسټ، یو عراده ګرځنده امبولانس موټر له اړینو روغتیایي کارکوونکو سره سمبال شوی، تر څو بېرته راستنېدونکو ته بیړني او لومړني روغتیایي خدمات وړاندې کړي.

یاد امبولانس د کډوالو ریاست ودانۍ کې ځای پر ځای شوی او روغتیایي ټیم هره ورځ سهار له ۸ بجو تر غرمې ۱۲ بجو پورې مراجعینو ته لومړني روغتیایي خدمات، مشورې او د ضروري دواګانو وړیا وېش کوي.

